English - Pashto
Medical Dictionary



By

Dr. G. J. Jakar Shinwary (MD)

1999

English - Pashto
Medical Dictionary

By

Dr. G. J. Jakar Shinwary (MD)

1999

PROPERTY OF ACKU 8634

Aa

Ab (اب)

غیر،ضد

که داحرف دکومې کلمې په سرکې

راشي نودهغې کلمې معنی په

ضدیامقابل بدلوي

Abasia (ابازیه)

دبدن دغړودبې نظمې له کبله د قدم

وهلو ناتواني

Abatement (اباټ منټ)

د درد اواعراضودشدت کموالی

Abaxil (اباکسیل)

دبدن دمحورڅخه لیرې

Abdomen (ابډومن)

- نس ، دبدن هغه برخه چې دتټر (حجاب

حاجز) اودلګن خاصرې ترمنځ پرته وي

Abdominal (ابډومینال)

نسنی،بطنی

Abdominoscopy (ابدومینوسکوپی)

دسترګو پواسطه د بوه مخصوص ماشین په

مرسته دنس معاینه او کتنه

Abdominous (ابدو مینوس)

(نوس) په لاتینی ژبه کې صفت دی -

دنس یوه غوره او څرګنده برخه .

Abducent (ابدو سنټ)

دمرکزڅخه لیرې کیدل

Abduction (ابډکشن)

لرې کیدل،تبعد ، دوري

Abepithymia (ابی پی تیمیا)

Abiology (ابیولوژی)

دغیر حیه شیانو علم پوهنه

Abirriation (ابی ریشن)

دقهر او کینې کمول

Ablation (ابلاشن)

لرې کول، دیوې برخې جلاکول .

Ablepsia (ابلپ سیا)

روند والی ،نابینا بی

Abnormality (ابنا ءرملیتی)

غلطه جوریدنه، غیر طبعی ، نقیص

Abortion (ابورشن)

-دبې مودې ماشوم زیان

- سقط (اچونکی)

Abourtus (ابورتوس)

زیان دداسی مړه ماشوم وزن دزیان

په وخت کی ۵۰۰ گرامو څخه کم وی

Abrachia (ابراکیا)

په ولادي توگه د ماشوم دمټ

نشتوالی

دگیډی دشاتنی عصب فلج

Aberration ابراشیو (ابریشن)

- ذهني انحراف .

- ددید مغشوش کېدل.

- دسمې لارې څخه کږیدل.

Abiatrophy (ابیاتروفی)

په رحم کې دژوند فعالیتونو کمی اویا

دلاسه ورکول .

داحالت کله کله د وخت او کله کله د بې

وخته ماشوم په موده کی منځ ته راځي ،خو

په کلنیکی لحاظ دالوحه کله کله ښکاره نه

وی .

Abio traphy (ابیوترافی)

دپوشمیر اعضاو او انساجو پر مخ تللی

خرابی او استحاله چی وظیفوی خرابی منځ

ته راوړی

Abiochemisrey (ابیوکمستری)

غیر عضوی کیمیا

Acapnia (اکپنیا)

په وینه کی د اوکسیجن داندازې کموالي

Accessory.N (آسوسوري نرو)

یوولسم عصب چی دمغزو څخه راوتلي

او دلسم عصب یوه څانگه ده

Accept (اسپټ)

منل ، قبلول

Accommodation (اکومودیشن)

روږدی کیدل ، تطابق

Acetabulum (اسیتابولیوم)

دکوناټي دحرقفی هډوکی ژوره برخه چی

دفخذ بادورون هډوکی سره د ډوډی

(حرقفی فخذی) بند جوړوی

Acetyl choline (اسیتایل کولین)

یوه کیمیاوي ماده ده چی د کولین

نرجیک عصبي رېښو په آخر کی د عصبی

تحریک پواسطه ترشح کېږي او گاونډي

حجره تحریکوی چی عصبی تحریک

Abrasion (ابریژن)

گریدل، تخریش ، سولیدل

Abrupt (ابروپټ)

ناڅاپی بدلون

Abscess (ابسس)

-دانه، دزخم په بده اغوښتل

-دبدن په یوه برخه کی د نو او

زوورا تولیدل

Abscission (اب سی شن)

دبدن د یوې لوې شوې او مرضی برخې

ایسته کول.

Absorption (اب زرپشن)

جذب ،زغمل،دغشا څخه دموادو

تیریدل

Absurd (ابزورد)

چټی ،بې معنی ، مبتذل

Abusive (ابو سیو)

ددرمل ناوړه او غلط استعمال

Achrodermatitis

(اکرودرماتیتس)

دبدن داطرافو دپوستکی پرسوب او گزک

Acidaminuria (اسیدامین یوریا)

په متیازو کی دامینواسید

خارجیدل او اطراح

Acidemia (اسیدیمیا)

دوینې غیر طبیعي تیزابیت

Acidosis (اسیدوسس)

دبدن په انساجو او مایعاتو کی د

اسیدونو (تیزابو) زیاتوالی

Acrocephaly (اکروسیفالی)

په ولادی توگه دسر د کوپړی دهډوکو

بدشکله لوی والی چې ځوکه لری.

Achrohypothermy

(اکروهایپوترمی).

دلاسو او پښو غیرنورمال

یخوالی

جریان مومی او د کولین استراز انزایم

پواسطه تجزیه او په کولین اسیتیت

بدلیږي.

Achalasia (اکالازیا)

-دخوړو د تیریدلو کمزورتیا

-دمری (سری غاړی) دتارونو او نرمو

عضلو سستوالي.

Achlor hydria (اکلورهایډریا)

دگیډې په شیره (عصاره) کې د مالگې

تیزابو کموالي

Acholia (اکولیا)

دصفرانشتوالی

Achroma (اکروما)

درنگونو نشتوالی

Achromatosis (اکروماتوسس)

ټول هغه رنځونه چی درنگونو او

صباغونو کموالی ښی

Achromia (اکرومیا)

دنورمال رنگ ورکیدل

لاس ،پښې (نهايات)

(اکروپتالوژی) Acro pathology

دنهاياتو درنځونو مطالعه او څېړنه.

(اکتين) Actin

يوډول پروتين دی چې په عضلاتو کې

دزيات شته او تقلص کې رول لری.

(اکتو) Acto

بی ځايه ، بهر

(اکتينو مای سين) Actino mycine

ېوانتی بيو تېک دی چې د R.N.A

سره ترکيب شوی او د R.N.A

دجوړښت څخه مخه نيسی.

(اکيوټ) Acut

حاد ،ناڅاپه، نابېره

(اسستيا) Acystia

په ولادی توګه دمثانی نشتوالی

(اسستی نرويا) Acysti nervia

دسپو غزې فلج

(اکرومیګالی) Achr megaly

دمخ او نهاياتو دبڼې تغير او غير

طبيعي لويوالی

(اکوستيک) Acoustic

-اوريدل

-په اوريدلو پورې اړوند.

-داوريدلو مرستيال.

لکه د Aditory.N (داوريدلو

عصب)

(اکورمينون) Acromion

راوتلي برخه لکه دکتف (چاری)

دهډوکی جګه څوکه

(اکروپارا لای سس) Acroparalysis

دنهاياتو فلج او بی حرکته کيدل

او کيدای شی بی حسي هم ورسره وی.

(اکروزوم) Acrosome

دسپرماتوزوئيد دسر يوه برخه.

(اکرو) Acro

Adaptation (اډاپتی شن)

برابرول ، اړخ لګول ، تطابق

Addiction (اډکشن)

روږدي کیدل ، اعتیاد

Adenalgia (اډي نل جیا)

دبدن دغدودو (غړو) درد

Adenectomy (اډینیکتومي)

دغدودو (غوټو) ایستل

Adhesion (اډهیشن)

بوځای کیدل ، سره نښتل ، التصاق

Adinitis (اډي نیتس)

زیلی دانه ، دغدودو ګزک او التهاب.

Adpos (اډی پوز)

وازده ، چربو ، شحم

Adipaisity (اډی پوزیتی)

زیات څربښت ، چاقی

Adolescence (اډولیسنس)

ځوانې ته نژدې دوره ، تنکی ځوانی ، مراهق

Adrenal gland (ادرنیل ګلینډ)

هغه غدې (غړی) چې د پښتورګو

دپاسه موقعیت لری او ډېر هورمونی

فعالیتونه سر ته رسوی

Advers reaction

(اډورس ریکشن)

ناوړه اثر ، جانبی عوارض

Aerobion (ایرو بیون)

هغه مکروبونه چې په پاکه اوآزاده

هواکی د ژوند کولو وړوي

Aerobic (ایرو بیک)

هوابازی ، هغه بکتریاوې چې په اوکیسجن

لرونکی هوا کې ژوند کولای شی .

Aero biosis (ایرو بیوسس)

ذاوکیسجن او ازادی هوا په موجودیت

کی د ژوند فعالیتونو ته دوام ورکول

Aero phagia (ایروفاجیا)

په عادی توګه دهوا خوړل او تیرول

Agi tation (اجی تي شن)

لمسون ، پارونه ،تحریک

Agnosia (اگنوسیا)

دروغو (سالمو)سترگو پواسطه دعادی

شیانو د لیدلو ناتوانی .

Agony (اگونی)

روحی او جسمی کړاو (عذاب)

Agranulocytosis

(اگرانو لو سایتوسس)

په محیطی اودوراني وینه کی داگرانو

لوسایتوس حجرو کموالی

Agra phia (اگرافیا)

دلیکلو او فکر کولوتوان دلاسه ورکول

او گډودی یې .

Agravate (اگراوېټ)

په قهر کول، وخیم کیدل

Air sac (اېرسک)

هوایي کڅوړه

Aero therapy (اېروتیراپي)

درنځ درمل دهوا پواسطه

Afferent (اېفرینټ)

اخستونکی (اخذ کننده) لکه حسی

اعصاب چی تول محیطی فعالتونه

عصبی مرکزته نقلوی.

Agalactia (اگالکشیا)

دتي دشیدو کموالی او نشتوالی

Agglutina tion (اگلوتي نیشن)

دوینې دسروکریواتو ښو ځای کیدل ؛

پرنډ کیدل ، لخته کیدل .

دوینی د زراتو تجزیه او بیا دېوډول

زراتو را تولول او جلاکول

Aggrasive (اگراسیو)

تیری کوونکی ، متجاوز ، متعرض

Agglutinine (اگلوتینین)

دسیروم او انتی بادی سره دورته انتی

جن او جین یو ځای کېدل

AlKaline (الکالین)

هغه مـحلول او سلوشن چی (پی، اچ) یې داوو عدد څخه زیات وی.

Allel (الیل)

دوه یا څـو بوډول جـینونه چی د کروموزوم د پاسه ځای لری او ارثی خواصو د نقل کولو واحد باله شه.

Allergen (الرجن)

هغه مواد چی په بدن کې حساسیت پیدا کوی

Allergo logist

(الرگولوجست)

هغه شخص چې د حساسیت په تداوی کې تخصص ولری

Allergology (الرگولوجی)

هغه علم چی د حساسیت په هکله هرارخیزه څیړنې کوی.

Allergy (الرجی)

AKinesia (اکی نیزیا)

د حرکاتو کمی او نشتوالی

Alba (البا)

سپین، سفید

Albinism (البی نیزم)

د بدن په پوستکی د اصلی رنگ کموالی او د پوستکی یا وینبتانو سپین رنگه کېدل.

(د صباغاتو فقدان)

Albumin (البومین)

د پروتین ډیر ساده تولگی چی اوبو کې حل او د تودوخی پواسطه سختیږي.

Albumin uria (البومین یوریا)

په تشومتیازو کې د البومین زیاتوالی

Alxia (الکسیا)

د تلفظ او کلمو په سم ویلو کې خرابی.

Alimentarycanl (الي منتری کانال)

د هضمي سستم له پیل تر پایه (له خولی تر مقعده پورې)

هغه وړي خوني (کڅوړی) چی په
سږو، غاښونو او نورو ځایو کی
موجودې وی لکه د اسینا ،دغدې
وړوکی فولیکلول

Amalgam (امال گم)

دسیمابو او نورو فلزی موادو ترکیب
چې د غاښونو په تداوی او په ډکیدلو
کی ورڅخه کار اخلي.

Ambivalance (امبیوالانس)

دشریک ژوند سره مخالفت،
داحساساتو اوید روش په سبب د
مقصد لاسته راوړلو مشکل

Amblyopia (امبلیو پیا)

-دديد غیر قابل اصلاح تشوش.
-تمبله سترگه، یا هغه سترگه چی د نه
استعمال له کبله بې دبده پاتی شی.
-دبو شدوه لیدل.

دبدن دغړو اوانساجو غیر عادی عکس
العمل د فزیکی، روحی او کیمیاوی
تحولاتو په مقابل کی چی په پوستکی
کی ځنی تغیرات منځ ته راوړی

Allolalia (الولالیا)

په مرکزی عصبی سستم کی دخبرو د
مرکز خرابی

Aloofness (الوف نیس)

بی علاقه گي

Alopecia (الو پی سیا)

د ویښتانو تکیدل او توبېدل

Alteration (التریشن)

بدلون، تغیر

Alviol (الو یل)

دسږی هوایي کڅوړه (سنخ)

Alveolitis (الویولیتس)

دسږو دکڅوړو (اسناخو) گزک

Alveolus (الویلوس)

چی تصویر ماکو لاکی نه جوړیږی.

Aminoascud (امینو اسید)

دپروتین د مالیکول ساده برخه چی امین او اسید دواړه لری او د پروتیني مادې اساس جوړوی.

Amitosis (امیتوسس)

ساده ویشنه ، ساده تقسیم

Amnion (امنیون)

هغه پرده چې ماشوم درحم په دننه کې پوښی له مایع څخه ډکه دوه پوښه لری -ماشوم او مورله خارجی فشار څخه ساتي.

Amnesia (امنیزیا)

هیریدنه، دحافظې خرابی ، فراموشي

Anabolism (انابولیزم)

دمیتابولیزم هغه مرحله ده چي غټ مالیکولونه په ساده اوورکوتو مالیکولونو بدلوي.

Ambulatory (امبولاتوری)

-د بستر څخه بهر د رنځور لیدل

-په کتنځی او کلنیک کې در نځور لیدل

سراپامریض

Amoeba (امیوبا)

امیب (واحدالحجروي) پرازیت دي ددروغجنو پښو پواسطه تغذیه او حرکت کوی

Ameobiasis (امیوبیا سیس)

امیبي نس ناسته چې وینه وزسره وي

Ameobicidle (امیوبی سیدل)

امیب وژنکي درمل

Amenorrhoea (امینوریا)

دمیاشتیني عادت ورکیدل

Ametria (آمیټریا)

په ولادی نوگه درحم نشتوالی

Ametropia (امیتروپیا)

دسترگو دديد گډوډی

دانکسار غلطی (نژدې او لری لیدل)

Anaphase (انافیز)

پدې مرحله کې نوی کروموزومونه د حجرې قطبینو ته وړل کیږي چې دهستې دویش دریمه مرحله یا پاړکی دي

Anasthesia (انستیزیا)

بی هوشي ، بی خودی، بی حسی .

Anasto mosis (انا ستوموسس)

دجراحی عمل پواسطه د پتالوژیک زیان د منځه وړلو په خاطر دوه نلکی سره خوله په خوله ګنډل.

Anatomist (اناتومست)

دانا تومی تکړه پوه اوماهر

Anemia (انیمیا)

دوینې دسرو کورو یاتو او اوسپنې کموالی.

Androgen (اندروجن)

هغه ماده چې د نارینه جنس هو رموني فعالیتونه ولری.

Anatomy (اناتومي)

دژوند یو موجوداتو دبدن جوړښت څېړنه او پیژندنه (علم التشریح)

Anaerobic (ان ایرو بیک)

-غیر هوا بازی .

- هغه حیه موجودات چې په آزاده هوا کې ژوند نه شي کړای.

Anal (انال)

مقعدی برخه

Analgesic (انلجزیک)

درد ارامونکی درمل (دوای ارام بخش)

Analogue (انا لوګ)

-هغه دوه غړی چې د دندې له پلوه یو له بل سره ورته خو جوړښت یې سره تو پیر ولري .

-دبوه یا څوکیمیاوی موادو استعمال چې خاصیت یې سره ورته او اتومیک جوړښت یې سره توپیر ولری.

Aneurysm (انیوریزم)

دشریان دجدار همیشنی پراخوالی چې هلته په زیاته پیمانه وینه تولیږی.

Angiasthenia (انجي استی نیا)

داوعیو په جدار کی دمقاومت کموالی

Angiectasis (انجي یکتا سس)

درگونو دجدارپراخی او کشوالی

Angiectomy (انجي یکتومي)

دوینې او بادلمف درگونو دیوې برخې ویستل

Angitis (انجي تس)

درگونو دیوې برخې گزک، پرسوب او مکروبی کیدل

Angina (انجي نا)

= خناق.

-تول هغه رنځونه، حملې او دردونه چې د ناڅاپی تشنج او خپه کولو داحساس سره تړلی وي.

Anemic (انیمیک)

کمخونی، دوینې کموالی

Anepia (انی پیا)

دخبرو کولو نا توانی

Anergesia (انرجی زیا)

دیوه افت له کبله په عصبی مرکزی سستم کې د سلوک او کړوړو تغیر

Anergy (انرجي)

پیاوړتیا، هغه توان چی الرژیک عکس العمل کمزوری کړی او دبدن تللې قوه بېرته فعاله کړی.

Anesthesia (انس تیزیا)

-دتولو منبه فعالیتونو دریدل

-دعملیاتو په وخت کې بې هوشي

Aneuria (انیوریا)

دعصبي ریښو دانرجي کموالی

Aneurin (انیورین)

تیامین (دبي یو ویتامین)

وچ ، بې اوبو او خولې کمونکی .

Aniridia (انی ریډ یا)

په ولادی توګه د سترګې د قزحی پردې نشتوالی .

Anisocytosis (انی سوسایتوسس)

په وینه کې د غیر نورمال اربتروسیت حجرو موجودیت .

Anisometrupia (انیزومیتروپیا)

په دواړو سترګو کې د انکساری حالت زیات تفاوت یعنې یوه سترګه میوپ او بله هایپر متروپ وی .

Aniseikonia (ان سی کونیا)

د جسامت او شکل په لحاظ د یوه شی په دواړو سترګو کې په توپیر سره لیدل .

Ankle (انکل)

ښنګری (بجلک پای)

Ankylosis (انکی لوسس)

مفصلی یخوالې ، د بندونو د حرکاتو

Angiography (انجیو ګرافی)

د رګونو رادیو ګرافی چې د مخصوصې مادې په زرق کولو سره نقصیه معلوموی .

Angioma (انجیوما)

دوینې او د لمف د رګونو تومور.

Angulation (انګولیشن)

-کږېدل .

-د بدن د یوه غړی څوکه لرونکی زاویوي جوړښت.

Angulus (انګولوس)

-ټک ، نښه ، برید.

داناتومیک جوړښت له کبله د یوه غړی برید او علامه .

Anhidrosis (انهایدروسس)

د خولو د کموالی په سبب د پوستکی وچوالی .

Anhydrous (انهایدروس)

Anopsia (انوپ سیا)

-دیوې سترګې دلیدلو تشوش.

-حول.

-پورته خواته دسترګې کوروالی

Anorexia (انوریکسیا)

بی اشتهایي

دعصبی تنبه له کبله دغذا څخه خوابدی .

Anorthopnia (ان اورتو پنیا)

-ددید خرابی او غیر مساوی لیدنه.

- دسترګو کړه او نااندوله لیدنه .

Anoscopy (انو سکوپی)

دیوې مخصوصې آلی پواسطه دمقعد داخلی کتنه .

Anosmia (انوزمیا)

دبوي (شامی) دحس خرابی او نشتوالی .

Anotia (انوشیا)

دفزیکی ، کیمیاوی او ولادی نقصیو کموالی او بی حرکته کیدل

Ano (انو)

مقعد

Anomaly (انومالی)

نقیصه ،د نورمال حالت نشتوالی او خرابی .

Anonychia (انونیکیا)

دنوکانو نشتوالی .

Ano phthalmos (انوفتل موس)

دسترګې د ګاتې نشتوالی په (ولادی شکل سره)

Anoplasty (انو پلاستی)

دپلاستیکي عمل پواسطه دمقعد جوړیدنه .

Anoopsia (انو اوپ سیا)

په لغت کې پاسنی لیدل په اصطلاح کې دیوې سترګې دمحور انحراف اوددید دساحې دپاسنې برخې لیدل .

Antibody (انتی بادی)

که یوه انتی جینی بیگانه ماده یر ورته
بدن ته داخله شی نو بدن دهغې په
وړاندې یو معافیتی ماده جوړوی چې
خارجی مضره ماده او حیه مضر جسم له
منځه وړی او دې ته انتی بادی وایي .

Anti coagugen (انتی کواگولین)

دوینې د تخثر (پرنډ) کېدلو ضد ماده .

Anticonvulsan (انتی کانولسان)

هغه درمل چې د بدن تکان او اختلاج له
منځه وړی .

Antidiarrhoeal (انتی ډاریال)

هغه درمل چی اسهال (نس ناسته) له
منځه وړی.

Antidote (انتی ډوت)

هغه ماده چې د سمی مادې زهری تاثیر
له منځه وړی.

له کبله د غوړونو نشتوالی

Anoxemia (انوکسی میا)

- په وینه کې د اوکسیجن کموالی .

Anoxia (انوکسیا)

د بدن په غړو (حیاتی غړی) کې
د اوکیسجن کمښت.

Antagonist (انتاگونست)

بو دبل ضد ، بو دبل مخالف .

Anthrax (انتراکس)

تورتپ، ناسورتپ، سیازخم .
دا یوه ساری مکروبی ناروغی ده چی په
پسه ،آس، کچره ،میږه او اوزه کی پیدا
کیږی او بیا انسانان پرې اخته کیږی.

Antibiotic (انتی بیوتیک)

هغه ماده ده چې په طبعي او صنعی
ډول د میکرو اورگانیزم څخه لاسته
راځی او د نورو مکرو اورگانیزمونو
د پاسه سمی او وژونکی اثر لری .

Anterior posterior

(انتی ریور پوستیریور)

دمغ څخه دشاوخواته (دقدام څخه خلف ته .

Anteriorchamber

(انتیریورچمبر)

قدامی بیب

- هغه خالیگاه چی په قدام کی دقرنی او په خلف کی د قزفی پواسطه احاطه اود زجاجی خلط پو اسطه ډکه شویده .

Antero superior

(انتیرو سو پیریور)

دمغ دخوا څخه پورته خواته (قدامی علووی) .

Anti hemorrhagic

(انتی هیموراجیک)

دوینې دتللو دمخنیوی درمل اولارې چارې .

Antifungal (انتی فنگل)

دپوپنک ضد.

دفنگس دودی مخنیونکی دوا .

Antihistaminic (انتی هستامینیک)

دهغې مادې ضد چې هستامین آزاده وی

Antigen (انتی جن)

-هغه ماده چې مخصوص انتی بادی جوړوی .

-هغه ماده چې د زیان رسونکی جن په ضد عمل کوی او په بدن کی جوړیږی.

Antihyptrtensiv (انتی هایپرتین سیو)

دوینې دجگ فشار له منځه وړونکی درمل.

Anti metropia (انتی متروپیا)

ددواړو سترگو ترمنځ دانکسار زیات توپیر چې یوه نژدې او بله لرې گوری.

Ante rior (انتی ریور)

دمغ وخواته (قدام) .

دویروس ضد درمل .

Anuria (انوریا)

دمتیازو ډیر کمښت او بند ش چې په ۲٤ ساعته کې ۱۰ سی سی څخه کم وی.

Anus (انوس)

مقعد ، مخرج ، دغتی کلمی پای .

Aorta (آورتا)

ابحر ، هغه رگ چې پاکه وینه ټول بدن ته لیږدوی .

Aortectasis (آاورتیک تاسس)

دابهر د رگ پراخوالی (توسع) .

Aortotomy (آاورټوتومی)

دابهر د رگ جراحی عمل چې دابهر نقصیه له منځه وړی.

Apex (آپکس)

زروه ، څوکه .

Aphagia (آفاجیا)

Anthropology (انتروپولوژی)

دانسان دنسل پښت او اصل څېړنه .

Anti (انتی)

ضد ، مقابل ، مخالف ، داکلمه چې دبلې هرې کلمې په سر کې راشی نو دهغی ضد ښی .

Anti pruruitic (انتی پرورتیک)

دخارښت له منځه وړونکی درمل .

Antrum (انتروم)

چمبر ، خلا ، لکه سینوس (ډنډوکی) .

Antiseptic (انتی سپتیک)

-هغه طبی کیمیاوی (دارویي) مواد چې مکرو او رگانیزم او دهغه دزهری تخریب څخه مخه نیسی .

-(ضدعفوني)

Antitussive (انتی توسیف)

دټوخی ددریدلو درمل (ضد سلفه) .

Anti viral (انتی ویرال)

Apnea (اپنیا)

د تنفس دریدل ،ډېر کمي او نشتوالی .

Apoplexy (اپو پلکسی)

درگونو څخه بهر په یوه غړي کې ددېرې وینې راتولیدل چې هغه عضوه ترې گټه نه شی اخستلای.

Apparent (آپرینټ)

ښکاره ، جوت ، څرگند ، واضح .

Apendage (اپندج)

-په یوه ځـــاي کې راوتلې برخـــه لکه اپندکس.

Appendicitis (اپنډیستس)

د اپنډکس گزک او پړسوب .

Appitate (اپی تیټ)

اشتها .

Application (اپلی کیشن)

غوړیدنه ، مښل ، مالش .

Approximal (اپروکزیمل)

سره یو ځای کول.

دخوړوپه تیرولو کی ستونزه او کړاو

Aphakia (افاکیا)

دســـتـــرگې دعـــدسې نشـــتـــوالی او یاد عملیات پواسطه ویستل.

Aphasia (آفازیا)

گونگوالی ، دمغزود خرابی په سبب په خبرونه پوهیدل .

Aphtosis (آفتوسس)

دخولې دمخاطی غشا دپاسه په مزمنه توگه د سپین رنگه تپونو پیدا کیدل .

Aphonia (آفونیا)

د آواز خپوالی او ناتوانی .

Aphtha (آفتا)

بوه ورکوتې سپین رنگه قرحه (زخم) او خاپ.

Aplasia (آپلازیا)

نقـــیـــصـــه ، په ولادی توگـــه دیوه غـــړی نقیصه او نشتوالی .

دشریانونو درا دبو گرافي پانه چې دشر
ېانو نقصیه ښايي.

(ارتیروسپزم) Arteriospasm

دشریانونو تشنج او یغوالی .

(ارتیربوتومی) Arteriotomy

دجراحي عمل پواسطه دشریان دیوې
برخې خلاصول او دنقیصې له منځه وړل .

(ارتریتس) Arteritis

دشریاني رګونو ګزک .

(ارتیری) Artery

شریان ، هغه رګونه چې دبدن نورو غړو
ته وینه لیږدوي

(ارترالجیا) Arthralgia

دبندونو (مفاصلو) درد .

(ارتریتس) Arthritis

دبند ونو (مفاصلو) ګزک .

(آرترو کاسی) Arthro cace

دبندونو ټپونه .

(اپراکسیا) Apraxia

دیوه شی سم نه لیدل او دحرکاتو په اجرا
کې ګډوډی.

(آپای رکتیک) Apyrectic

بی له تبې .

(اکیووس) Aqueous

زجاجی خلط .

(آراکنویید) Arachnoid

ددماغ ددری ګونو پردو منځنی پرده .

(ارم) Arm

بازو ، مټ .

(آروماتیک) Aromatic

خوشبوی ، معطر .

هغه مواد چې ددرمل دخوند دپاره ترې
کار اخلي .

(آرسیټ) Arrest

توقف ،لکه ،د زړه او سږو دریدل .

(ارتیرو ګرام) Arterogram

دبندونو تصلب ، او کلک والی

Arthrosis (ارتروسس)

دجراحي او یادیو رنځ پواسطه دیوه بند دواړه مخونو یا سطحو یو ځاي کیدل او بی حرکته کیدل.

Arthrosynovitis

(ارترو سنوویتس)

دبند دسنووبل (هغه پرده چې دبند دننه برخه پوښي) گزک او پرسوب

Articulation (ارتي کولیشن)

مفصل ، بند

Arrticular (ارتي کولر)

دبند یو ه برخه یا حصه

Ascitis (اسیتس)

په نس کی د غیر طبعي مایع تولیدل

Asidrosis (حبن)

(اسیدروسیس)

دبدن داوسپني د ذخیري کموالی

Arthrocele (ارتروسیل)

دبندونو پرسوب او گزک

Arthrocentesis (ارتروسنتیسس)

دبند ونو دمـــــــــنځ او خلاخخه دمـــــایع تخلیه کول.

Arthrochondritis (ادتروکاندریتس)

دبندونو دکرپندوکو پرسوب اوگزک

Arthroneuralgia (ارترونیورالجیا)

دبندونو دعصبی ربښو دردونه

Arthro phyma (ارتروفیما)

دبندونو پرسوب

Arthro phyts (ارتروفیتس)

-دبندو ددننه برخی غیر طبیعي او غیر نورمال وده.

Artherosclerosis (ارتروسکلیروسس)

دبندونو په دننه برخه کی نوونه او زوي (قبح او چرک)

Arthropyosis (ارترو پیوسس)

Asthenopia (اسستینوپیا)

-دسترګې د دید زیاتمن کیدل د سترګو دستر په شا برخه (څرې) او غاړه کې درد.

Asthma (استما)

عسرت تنفس، سالنډي.

Astigmatism (استیګماتیزم)

دانکسار د غلطی یو ډول دي چی شعاع له یوه واحد فوکس څخه راځي او شبکې ته د داخلیدلو څخه مخنیوي کوي.

Atelectasis (اتي لکتاسس)

د سږو د یوې برخې لږ څه ورکوټې کېدل او غونجېدل (تکمش).

Ataxia (اتکسیا)

ګنګسیت سرګچي (حرکت او لیدنه کي سستي).

Atavism (اتاویزم)

Aspiration (اسپریشن)

سا اخستل.

د ماعاتو د لاسه ورکول یعني د هوا کشولو پواسطه د ګازاو ویلنو (مایع) موادو ویستل.

Asscult (اسکولټ)

اصغاء، د زړه باد سږو د اواز ونو اوریدل.

Astasia (استازیا)

د عضلاتو د حرکي اعصابو سستی او د دریدلو مشکل.

Asterixis (استیرکسس)

د یو ګروپ عضلو په حرکت او تقبض (تولیدل) کی سستی، ګیډوی.

Asthenia (استی نیا)

- روحي ستریا، ضعیفي او د متري

Astheni (استیني) کموالي

ضعیفي ناتواني.

(لاری)بندیدل چې تخمه درحم خواته
نه راځي
-دښي ازین اوښي بطین تر منځ
دکړکی ورکیدل .

(اتریوم) Atrium

دزړه پاسنی دوه کوټې (دهلیزونه) چې
دبدن څخه ورته وینه داخلیږي او
بطیناتو ته لاره لري.

(اتروفي) Atrophy

دبدن دیوه غړي ورکوټي کیدل او
وچیدل.

(اتیک) Attack

حمله ، برید (درنځ پیل) .

(اتي چود) Attitude

کړه وړه ، روش .

(اډیومتري) Audiometry

پدې طریقې سره دغوږونو داوریدلو
قدرت او اندازه څرګندیږي .

دخوپېړیو وروسته په یوه ماشوم کې
دنیکه ګانو دکوم یو صفت پیداکېدل.

Atherosclerosis

(اتیروسکلیروسس)

تصلب ، دشریانونو دجدار سخت کیدل
همدا شان دزړه دوالونو دداخلي
جدارپنډوالي او سختي .

(اټلس) Atlas

دملاتیر دغاړې (رقبی)لمړۍ
فقره(شمزی)چې دسرکوپړي ورباندې
تکیه وهلې او داتلس په نامه یاد یږي .

(اتونیا) Atonia

دبدن او یا دبدن د یوه غړي دنورمال
مقاومت کموالی .

(اتریزیا) AtrOsia

-دنورمالی مجرا ورکیدل.
-دچپ بطین دلاري ورکیدل دابحرر ګ ته
-دتخمدانو د تیوبونو دمجرا

دځني غړو حرکات ، سلوک او کړه وړه سرته رسول.

Autonomic (اتونومیک)

په خپل سر (خودکار) غړي .

Autophobia (اتوفوبیا)

وهم ، وېره ، ډاربي له دي چي حقیقت ولري .

Autosome (اوتوزوم)

غیر جنسي کروموزوم .

Autosexual (اوتوسکشوال)

بې ارادې شهواني قوه او انزال .

Autotoxin (اوتوتوکسین)

هغه توکسین چي پخپله په بدن کې جوړ او خارجیږي .

Autopsy (اوتوپسی)

دمړي دبدن سپړنه ، تسلیخ (فتح میت) .

Auto (اوتو)

بنفسهي ، په خپل سر .

Auditory (اودي توري)

داوریدلو دپاره اماده لکه اتم عصب چي داوریدلو دحس وظیفه په غاړه لري .

Aural (اورال)

دخولې له لارې ، خوله .

Auscultation (اسکولتي شن)

دزړه اصغاو دغوږي (ګوشکي) پواسطه چي دیوه غړي نورمال او غیرنورمال او ازونه او حرکات معلوموي.

Autis (اوتیزم)

بي پروابي ، ذخارجي عواملو په مقابل کې خواب نه ورکول.

Autokerato plasty

(اوتوکیراتو پلاستي)

دیوې سترګې دنسج پواسطه دبلې سترګې دقرني پردې پیوند کول .

Automatism (اوتوماتیزم)

په خپل سر او په میخانیکي توګه دبدن

Aversion (آورشن)

مقابل، مخالف، نفرت، کرکه، ضدیت .

Axilla (اکسیلا)

تخرگ، ابط، زیر بغل .

Axillary (اکسیلاري)

تخرگ ته نژدې برخه .

Axis (اکسس)

محور .

Axon (اکزون)

هغه ریښه ده چې عصبي جریان او سیاله له عصبي حجري څخه د بدن محیطي غړو په لوروري .

Axoneuron (اکسونیورون)

دماغ او نخاع شوکي سستم د عصبي حجري لکۍ دوله جوړښت .

Azzospermia (اوزوسپرمیا)

په مني کې د سپرماتوز وانشتوالي .

Azotation (اوزوتیشن)

د هوا څخه د نایتروجن جذب او اخسته .

پېدا کولو سبب ګرځي .

Back bone (بیک بون)

هملاتیر ، ستون فقرات (شمزي) .

Bacterrmia (بکتریمیا)

په وینه کې د بکتریا وشته والي .

Bacteri cide (بکتري سایډ)

بکتري وژونکي درمل.

Bactriuria (بکتري بوریا)

په ادرار کې د بکتریا شته والي .

Bacteriostat (بکتریوستاټ)

هغه دوایي مواد چه د بکتریا وده او تکثر منعه کوي .

Bacterialoged (بکتریالوجست)

د بکتریا د پېژندنې پوه او عالم .

Bald (بالډ)

پک ، ګنجي .

Balm (بالم)

دوینلي (ناتا) کورتې، هغه دا روچې

Baby (بیبي)

ماشوم ، هغه ماشوم چې عمر یې د دوه کلونو څخه کم وي .

Bacill (باسیل)

هغه بکتریا چې د خلکي (چوبک مانند) په څېر جوړښت لري لکه تبلې دوله .

Back (بیک)

شاتني برخه .

Bacteria (بکتریا)

هغه میکروسکوپیک ژوي چې څنې یې بو حجروي او زیاتره یې انسان ته د رنځ

Bary lalia (باري لاليا)

دمرکزي عصبي سستم دافت له کبله

ترتري او پڅې خبرې کول .

Basic (باسيک)

عمده ، اساسي ،اصلی ، بنسټيز .

Beat (بيټ)

ضربان ، ټکان ،لکه دزړه ضربان

Benign (بيناين)

سليم ، هغه تومورچې خطرېې کم وي .

Behavier (بي هيوبر)

سلوک ، کړه وړه ، روش .

Bestiality (بستيياليتي)

دحيوان سره دجنسي عمل اجرا کيدل .

Benumb (بي نمب)

دغړو وبده کول او بي حسه کول .

Biceps (بي سپس)

هغه عضله يا غړي چې دوه سره لری .

Bicuspid (باي کوسپيد)

مسکن او ارام کونکي تاثيرلري.

Bandage (بنداژ)

دگاز او ټوکر يوه توته چې دبدن يوه برخه

پرې تړل کيږي .

Baroreceptor (بارورسپتور)

دحسي اعصابو نهايات چې دفشار په

تغير سره تنبه کيږي او حساس وي .

Barrier (باريږ)

بنديز ، مانعه .

Bartolinglands (بارتولين گلينډز)

هغه غدې چې دمهبل په خارجي برخه کې

ځاي لری او دتنبه په مقابل کې ډيرې

حساسې دي .

Barrbody (باربادي)

جنسي رنگ ، چې دنورمال ښځينه جنس

په جنسي حجره کی موجود او فکر کيږي

چې د (X) کروموزوم دفعاليت دپاره

ضروري وي .

په وینه کې د بلي روبین صباغاتو شته والی .

Bilirubin uria (بايلي روبين بوريا)

په ادرار کې د نومړي صباغ شته والي .

Binocular (بايي نوکولر)

د دوه سترګو دوربين .

Binocularvision

(بايي نوکولر ويژن)

د سترګو هغه پيساورتيا چې له يوه بيروني شي او جسم څخه په سترګو کې څو تصويرونه جوړ او د يوه واحد شي په څير ليدل کيږي.

Bimanual (بايي منوال)

په دواړو لاسونو سره د بدن د يوې برخې جنس او داندازې معلومول لکه د پښتو رګي (بډوډي) او د مور په نس کې د ماشو داندازې معلومول.

Biology (بيولوژي)

د وه واله لرونکي رګ .

Bi chloride (بايي کلورايډ)

زهر لرونکي ماده (د پارې کلورايد) چې د مکروب د ضد په توګه د منځلود پاره په کار يږي.

Bilateral (بايي لاتيرال)

د وه مخېز د وه اړخېز .

Bi (بايي)

د وه

Bile (بيل)

صفرا ، دينې (جګر) افرازات او تر- شحي مايع چې د غذا موادو خصوصاً غوړيو هضم کې مرسته کوي .

Bilirubin (بايي ليروبين)

هغه صباغات (رنګونه) دي چې د هيمو ګلوبين د تخريب څخه د وينې په سيروم کې بيدا کيږي .

Bilirubinemia (بايي لي روبي نيميا)

Bisexual (باي سکشوال)

په يوه جنس کې ددوه مخالفو جنسونو د خصوصياتو درلودل لکه په يزک (نرښځي) کې .

Bite (ببټ)

چېچل

Bizarre (بيزر)

وهمي ، خيالي ، احساساتي .

Bladder (بلډر)

سپوغزه (مثانه) .

Blast (بلاسټ)

خامه حجره ، اومه ژونکه .

Blastoma (بلاستوما)

رښتيني تومور .

Blastula (بلاستولا)

دالقاح شوې حجرې دويشنې بوه مرحله .

Bleeding (بليډنګ)

دژوند يو موجوداتو بشپړه څيړنه او پيژندنه .

Biopsy (بيو پسي)

دتشخيص په خاطر د ژوندي بدن د بوه نسج ديوې وړې برخې اخستل او ميکروسکوپيک څيړنه .

Biotic (بيوتيک)

حيه (ژوندي) عضويت.

Biotransformation

(بيوترانس فارميشن)

هغه عمليه ده چې بدن ته په داخل شوي درمل کې يو لړ بدلونو نه رامنځ ته کوي .

Bipolar (باي پولر)

دوه قطبه ، دوه ځنډيز .

Birth (بيرت)

زيږيدنه (ولادت)

Bisection (باي سکشن)

په دوه برخو ويشل .

لکیږي.

او داحالت دهغو ورانگو په نتیجه کې منځ ته راځي چې په بصري عصب باندې فوکس کیږي

Bowels (بوولز)

کلمې

Brachial (براخي ال)

دمټ (حنس) بوه وتلې برخه.

Brachiocephalic (براخیو سیفا لیک)

په مټ او سر پورې تړلې (اړوند) برخه

Brady (برادي)

دزړه دحرکاتو کموالي او وروالي.

Brain (برین)

ماغزه (مغز)

Branch (برنچ)

څانگه، شعبه

Brash (براش)

-دگیډې دسوزیدلو احساس

دبدن دپوه رگ او نسج څخه وینه تلل

Blepharitis (بلې فاراي تس)

دسترگو داجفانو (زیږمې) گزک.

Blepharal (بلې فارال)

بارخوگان (زیږمې) اجفان.

Blind neis (بلیند نیس)

نابینایي، ددید نشتوالي، ړوند.

Blister (بلستر)

تناکي وې

Blote (بلوټ)

دبدنامې داغ، تورلگول

Blood (بلډ)

وینه

Blook (بلاک)

بندش، مانعه، خنډ.

Blindspot (بلیند سپاټ)

ړنده نقطه، درویت په ساحه کې هغه برخه (نقطه) چې هلته څه نه لید.

Bronchiole (برنشویل)

دبرې وړې وړې نلکې

(قصبت الشعریه)

Bronchiolitis (برونشي بولتس)

دسږو دوړو وړو نلکو ګزک

Bronchitis (برونکیټس)

دسږو ذ لویو توتو (نلکو، قصبو)

ګزک .

Broncholgy (برنکولوجي)

دسږو دنلکو او قصباتو څېړنه

Broncho pneumopathy

(برنکو نوموپتي)

دسږو رنځ (سینه بغل) بریښ .

Bronchorrhagi (برونکوراجیا)

دسږو دتوتو څخه وینه تلل .

Bronchoscop (برونکو سکوپي)

دسږود توتوداخلي برخولیدنه او

مطالعه .

-دماشوم نس ناسته چې له تې څخه جدا

شي

Breast (بریسټ)

تېر، سینه .

Breath (بریت)

تنفس (دسا اخستل اوویستل) .

Breech (بریچ)

دماشوم دولادت په وخت کې دکوناټیو

دمخه زیږیدل .

Bromatology (بروماتولوجي)

دغذایي موادو او رژیم پوهنه .

Bronchi (برونکي)

دسږو توتې (نلکې) .

Bronchiectasis (برونشیکتاسس)

دقصباتو (نلکو) پراخي (توسع) دنلکو

تل پاتې رنځور ارتوالي .

Bronchiarchtia (برون کي ارکشا)

دنلکو تنګیدل .

Buffer (بفر)

خنثي ، دماليکولونو او غلظتونو اندول

Bulb (بولب)

گرده وتلي برخه او کتله ۰

Buphthalmos (بوف تلموس)

په يوه نوي زېږيدلي ماشوم کې د

سترګې دکرې غټوالي لکه دګلو کوم په

رنګ کې ۰

Bursa (بورسا)

کڅوړګی او په همدې ډول تشه خلا ۰

Bursitis (بورسيټس)

دکڅکوړګې په څير دچوربښت ګزک ۰

Butyrin (بوتي رين)

زيړ وزمه شحم (وازده) ۰

.....

.....

.....

Bronchotomi (برنکوتومي)

دجراحي عمل پواسطه دسږود يوې برخې

پاکول اوويستل

Bronchus (برنکوس)

قصبتالرېه دسږو غټي توتې چې ښي او

چپ سږي ته درومي.

Bruxism (بروکسيزم)

دغاښونو چيچل (په غاښو ميده ميده

کول) ۰

Bucca (بوکا)

غومبوري ، اننګي (رخسار) ۰

Bud (بډ)

پنګه ، زخه ،جوانه وهل ۰

Buccal (بوکل)

تالو (دپورتني ژامې دوريو شاته

برخه (يا کام) ۰

خرابه خوند ، خرابه ذايقه

Cacomelia (کاکو میلیا)

دلاس یا پښو ولادي نقیصه او سو شکل .

Caffeine (کافین)

کم یوبه ، سپین ترخه پوډرچې په قهوه کې شته د مرکزي عصبي سستم اوزړه محرک (لمسونکي) او د درد دارامې پاره لکه نیم سري کې ترې کا اخلي .

Calcic (کال سیک)

چونه (اهاک) د کلسم وړوکې برخه .

Calcification (کالسي فیکسیشن)

دبدن په انساجو کې د کلسیم د ذخیرې زیاتوالي

Calcipenia (کلسي پي نیا)

په یوه سستم کې د کلسیم کموالي .

Calculi (کالکولي)

د پښتورګو او تریخي ډبرې او تیږې .



Cacation (کاکاشن)

تغوط ، ساراته تیریدل .

Cacatory (کاکاتوري)

شدید اسهال ، نس ناسته .

Cachexia (کاشکسیا)

د خرابي تغذیې او سختي رنځورتیا څخه وروسته ډنګر کیدل او کمزوري .

Cadaver (کاداور)

مرده ، مړي ، لاښ .

Caecegiusia (کاکي ګوسیا)

داوښکودخارجیدلو ، ورکوتي تیوبونه
چي دمعیده نقطي څخه پیل او دعلوي
سفلي جفن دکانال سره بو ځاي او
داوښکو په کڅوړه پاې ته رسیږي .

Canalof schlemm (کانال آف شلیم)

اصلاح شوي وریدي جوړښت چې
دسترګې دقدامي بیت په زاویه کې ځاي
لري او خلط دمایع په افراغ کې مهم رول
لري .

Canthus (کانتوس)

-داجفانو (زیږمو)داتصال زاویې .
-دسترګو کونجونه .

Capacity (کاپاسیتي)

- ظرفیت لکه دسااخستلو او ویستلو
دتوان اندازه .

Capsule (کپسول)

محفظه ، هغه جلاتیني پوښ چي د هضم
وړاودطبي مقاصدو دپاره استعمالیږي.

Calculus (کالکولوس)

دپښتورګو یا تریخي کلکي ډبرې .

Calix (کالکس)

دپښتورګي هغه برخه چې د توبې په
څېړده اوزیات آهمیت لري .

Caliectasis (کالیک تاسس)

دپښتورګي دکالکس پراخوالي .

Calf (کاف)

پونډی (دپرکي شاته نرمه عضله) .

Callus (کالوس)

دمات شوي هډوکي دجوش خوړلو او
پېوند ځاي (برخه) .

Calorie (کالوري)

دانرژي داندازه کولوواحد .

Canal (کانال)

نلکه ، نل چې دهغې څخه په اسانې سره
اوبلن مواد تیریدلای شي .

Canaliculus (کانالیکولوس)

Cardiologest (کاردیولوجست)
دزړه دناروغیو پوه او متخصص •

Cardiology (کاردیولوژي)
دزړه د ناروغیو دپوهني علم •

Cardiomegaly (کاردیو میګالي)
دزړه دعضلي لوي والي •

Cardriomyopathy
(کاردیو میوپتي)
دزړه دعضلي رنځونه •

Cardioneursis
(کاردیو نیوروسس)
هغه عصبي او جسمي ستړتیا وي
نارامي چې دزړه دد رد او کړاو سبب
ګرځي •

Cardiopathy (کاردیو پتي)
دزړه پرمختللي رنځ او دوظیفي داجرا
عدم کفایه •

Cardiac (کاردیک)

Caput (کاپوټ)
سر ، ککره ،کوپړی، راس

Carbasus (کاربازوس)
ګاز ، هغه ګاز چې جذب او زغمل کیږي

Carcinoma (کارسینوما)
-ناسور
-خبیث او وژونکي تومور چې د یو غړي
څخه بل غړي ته ځان او جړې غزوي •

Cardiectasis (کاردیک تاسس)
دزړه لوي والي او توسع چې جوفونه پکې
پراخیږي.

Cardiocele (کاردیوسیل)
ددبا فګرام څخه د زړه تیریدل او چوره
(بوغمه) کیدل •

Cardiocentesis (کاردیو سنتي سس)
-دزړه بذل (دستني پواسطه د مایع
ایستل) •
-دجراحي عمل پواسطه دزړه رغونه •

مړوند (رصغ الید)

Cartilage (کارتي لګ)

غضروف ، کرپنډوکي .

Catabolism (کاتابولیزم)

دعضوي مواد وپه وړو وړو پارچو بدول ترڅو دانرژي تولید ته جوړشي .

Catalysis (کتالایسس)

په کیمیاوي تعاملاتو باندې دیوې وړې مادې اثر پر یو تل او مرسته کول خو پخپله په کیمیاوي تعامل کې برخه نه اخلي .

Cataract (کتارکټ)

دعدسې کثافت ، دسترګې ګل .

Catalyst (کتالیټ)

منځګړتیا «وساطت» .

دکیمیاوي مواد و د تغیر چټکونکي .

Catamenia (کتامینیا)

دغیر محمول رحم څخه دنورمال فیزیو لوژیک مایع راتلل .

قلبي (دزړه ته نژدې)

Cardioplasty (کارډیو پلاستي)

دمړی او ګیډې ترمنځ دسوري ترمیم او بندول .

Cardiotonic (کارډیوتونیک)

دزړه مقوي درمل او مواد .

Carotid Artery (کاروتید ارتري)

دغاړې رګونه (وداجي رګونه)

Caroted (کاروتید)

دعضلو لاندې کانال یا جیب .

Care (کیر)

احتیاط ، څارنه ، ساتنه .

Caruncula (کارن کو لا)

دبکارت دپردې د څیرې نسج یوه جګه او پاتې برخه .

-دسترګې دداخلي کونج لوړ او برجسته نسج .

Carpal (کارپل)

کهف ، خلا ، خالي ځاي .

Cecum (سیکوم)

دا هغه ځاي دي چې وړې کلمې پاې

ته رسیږي او غټه کلمه پیل کیږي .

Cele (سیل)

چوره ، ګزک اوراوتلي غوټه (کتله)

Celioma (سیلیوما)

بطني (نسني) تومور .

Celi(o) (سیلیو)

نس ، شکم

Cecitis (سی سیتس)

دسیکوم پرسوب او ګزک .

Cecotomy (سیکوتومي)

دجراحي عمل پواسطه د سکوم رغول

Celitis (سیلي تس)

دنس هرډول ګزک .

Cell (سیل)

ژونکه ، هغه پروتوپلازمي جوړښت

Catastroph (کتاستروف)

ناڅاپي پیښې ، حادثې .

Catatonia (کتاتونیا)

دسکیزو (لیونتوب) رنځ هغه حالت دي چې په

هغه کې حرکي خرابوالي ، پریشاني او تنبه

لیدلکیږي .

Catatonic (کتاتونیک)

حرکي تشنجي حالت لکه د میرګي په رنځ کې .

Catheterization (کتتیاراي زیشن)

دبدن کومې نلکې او یا کڅوړې ته د تشخیص

او بندش دلرې کیدلو په خاطر دطبي سامان

(نلکه ، سنډ ، تیوب) داخلیدل .

Cauda (کودا)

لکۍ ډوله ، دم مانند .

Cauda equina (کوداکونیا)

لکه لمي (زنب الفرس) یاد شوکي تخاع

وروستي برخه .

Cavity (کویتي)

دشمزی هغه برخه چی د کولاجن ریښو
پواسطه یوه شمزی دبلې سره نښلوي .

(سیفالیک) Cephalic

په کوپړی (سر) پوري تړلې برخه

(سیفالجیا) Cephalgia

سردردي .

(سیفالیتس) Cephalitis

دسر ګزک او پړسوب .

(سیفالوپتي) Cephalopathy

دجمجمی (سر) هډول رنځ

(سیری بی لر) Cerebellar

دواړه دماغ یوه برخه .

(سیري بي لیوم) Cerebellum

مخیخ (دمغزوشاتنی وروستی برخه)

(سیر برو) Cerebro

ماغزه .

(سیربروسپینل) Cerebro spinal

حرام مغز .

چي دبدن دټولو حیاتي فعالیتونو واحد
بلل کیږي

(سیلولیتس) Cellulitis

دنرمو انساجو مکروبي ګزک چي دزوو
مرحلې ته نه وي رسیدلاي خو ډیر ژر
خپرېږي

(سنتر) Center

مرکز ،دبدن منځني برخه لکه دملاتیر .

(سنترال) central

مرکزي ،اساسي ، اصلي

(سنترفیوج) Cintrifuge

هغه ماشین چې په ډیرې زیاتې چټکې
سره یوې مایع ته په محور دور ورکوي
تر څو دکتنې او تشخیص دپاره دهمدې
مایع څخه جامد مواد جلا او
دمیکروسکوپیک کتنې دپاره اماده
شي .

(سنتروم) Centrum

Cheilitis (کي ليتس)

دشونډو او دوخکي چاوداوګزک .

Charcot,s sign (کارکوټ ساين)

دوريځو (ابرو) ديوې برخې او دبلې برخې سفلی ته کش په وجهي فلج کې .

Cheiralgia (کيرالجيا)

دلاستونو ديوې برخې درد .

Cheiromegaly (کيروميګالی)

دلاسونو او ګوتو غير طبعي غټوالی .

Cesarean (سيزارين)

دعمليات پواسطه دنس له لارې دماشوم تولد .

Chest (چيست)

صدر، تټر

Chewing (چيونک)

ژوول ،شخوندوهل .

Chicken prox (چيکن پوکس)

تزبيکی (کوڅکی) آب چيچک .

Cerebral (سيربرال)

دماغ پورې اړوند او مربوط .

Cerumen (سيرومين)

دمنځني غوږخيری (وکس) چی دا نسجی افرازات دي او د غوږپرده له وچوالی او خارجی خطراتو څخه ساتي.

Cervical (سرويکل)

غاړه ، ورمير ، عنق، ګردن .

Cervicitis (سروی ستيس)

درحم دعنق التهاب

Cervix (سروبکس)

درحم عنق

Cesarotomy (سيزاروتومي)

دتولددستم (درحم ، تيوب او تخمدان) وبستل دګيډې ددېوال دڅيری کېدلو له لارې .

Cessation (سي سيشن)

ځنډ ، انقطاع .

دصفرا د نلکو ګڑک .

Cholecystectomy

(کولی سستیک تومی)

دتریخی د کڅوړې ویستل .

Chole (کولی)

دصفرا مایع .

Cholecsytalgia (کولی سستلجیا)

دصفرا د کڅوړی (تریخی) اونلکو درد

Cholecystitis (کولی سستیتس)

دتریخی (تلخه) ګڑک .

Cholecystolithiasis

(کولی سستولیتیاسس)

دتریخی او د نلکو ډبرې او عملیات یې

دتیرو د ویستلو لپاره .

Choledochitis

(کولی دوشیتس)

دتریخی دلویې نلکې ګڑک .

Choledecholithiasis

(کولی دیکه لتیاسس)

Chin (چین)

زنه، زنخ .

Child hood (چیلدهود)

دماشومتوب دمرحلې رنګونه .

Chills (چیلز)

سړه لرې، لرزه .

Chloasma (کلوزما)

دبدن د پوستکی د پاسنی برخې درنګ

زیاتوالی چې پاخه سره خاپونه او یا په

مخکې زیر بخن نصواری خاپونه او

داغونه لیدل کیږی.

Cholangiography (کولنجیوګرافی)

دصفرا د کیسې (دتریخي کڅوړه)

رادیو ګرافی دهغې دنلکو سره

دتشخیص په خاطر .

Cholangioma (کولانجوما)

دتریخی او دصفرا دنلکې تومور .

Cholangitis (کولانجیتس)

Chondre(o) (کاندرو)

غضروف، تندوری، کرپندوکی .

Chondrectomy (کاندریکتومی)

دغضروف دیوې برخې عملیات .

Chondritis (کاندررایتس)

دکرپندوکی گزک (دغضروفو التهاب) .

Chondroblast (کانددروبلاست)

دکرپندوکو اومې (خامې) حجرې .

Chondroblastoma

(کاندروبلاستوما)

یوسلیم تومور دي چې د هډوکو داپی فیز په برخه کې دغضروفو دځوانو حجرو څخه پیداکیږی.

Chondrocostal (کاندروکوستل)

دپوښتیو (اضلاع) او دهغو دغضروفو برخه .

Chorditis (کوردی تس)

دتریخی دنلکې دوروستی برخې تیږه .

Cholelithiasis (کولی لیتیاسس)

دتریخی په کڅوړه کې تیږه .

Cholemia (کولیمیا)

په وینه کې دصفرا او دصفراد صباغاتو شته والی .

Cholemesis (کولی می سس)

په کانګو کې دصفرا شته والی .

Cholilith (کولی لیت)

دصفرا دکڅوړې دبره (کانی) .

Cholinergic (کولی نرجیک)

دعصبی ریښو هغه برخه چې دعصبی پیام په وخت کې دخپلې آخری برخې څخه اسیتایل کولین افرازوی.

Cholera (کلورا)

داویا (کلورا) رنځ .

Cholesterolemia (کولستیرولیمیا)

په وینه کې د کولسترول زیاتوالی .

د بر پوخ داغ چې دژیر یا سـوررنګه
مالګې پواسطه منځ ته راځي
د حجری دهستې بوه برخه چې په
ډیری اسانی سره رنګ اخلی .

Chondrology (کاندرولوجی)
دغضروفو څیړنه او مطالعه .

Chondrolysis (کاندرولای سس)
دغضروفو اوبه او تجزیه کیدل .

Chondroma (کاندروما)
دغضروفو تومور .

Chorditis (کوردی تس)
دصوتی حبـول او دسپـرمې نلکې
عملیات .

Choroiditis (کوروئیدي تس)
دمشیمی ګڼک .

Chromocyte (کروموسایټ)
رنګه حجری .

Chromophobia (کروموفوبیا)
دمنوی حبل (دمنی تیوب) التهاب .

Choroid (کوروید)
مشیمه دسترګې وعایي منځنی طبقه
چې دصلبی او شبکې ترمنځ پرته ده.

Chordee (کوردی)
ښکته خواته دقضیب کږیدل .
(لېنده کېدل) چې دا نقصیه یا ولادي او
یا انتاني (مکروبی) وي .

Chordotomy (کوردوتومی)
دشوکی نخاع دعصبی تنې دیوې برخې
اصلاح او جراحی کول .

Chorea (کوریا)
هغه عصبی رنځ چې د غیر و منظمو غیر
ارادی حرکاتو سره مل وي .

Chorion (کوریون)
دجنین دپردې خـارجی برخـه چې په
وروورو تارونو پوښل شویده .

Chromaffin (کرومافین)

زیاتوالی او صباغ .

Chyle (کیل)

دشیدو په څیر مایع ده چې د کلمو څخه
دغذایي هضم وروسته جذب او
دمربوطه لمفاوی قنات پواسطه
وریدکې لویږي او دوینې سره گډیږی .

Chylus (کیلوس)

دهضم او جذب شوو غذایي موادو
شیره (عصاره) .

Cilia (سیلیا)

ذغابات (پلورایي او یا دوچې غاړې)
تارونه .

Circumrenal (سرکوم رینال)

دپښتورگی شاوخوا .

Circuit (سرکویټ)

محیط، دوره .

Cirrhosis (سیروسس)

په لغت کې ژیړاونا رنجی رنگ ته وایي
درنگونو کم لیدل او درنگونو کموالی

Chromoblast (کرومو بلاسټ)

دجنین هغه حجرې دی چې وروسته په
رنگه حجرو بدلیږی .

Chromosome (کروموزوم)

دحجرې هستوی برخه چې ریښه ډوله
جوړښتونه دی چې پروتین او DNA لرې
او د RNA په ملتیا ارثی خواص نقلوی .

Chronic (کرونیک)

مزمن (ځنډنی) .

chromatolysis (کروماتولاسیس)

درنگ له منځه تلل .

Chrom(o) (کروم)

رنگ

Chromhidrosis (کرومو هیدروسس)

درنگه خولو افراغ او رنگه خولې .

Chromatism (کروماتیزم)

غیر نورمال صباغ، دپوستکی درنگ

څونوروبرخو او حجروباندې .

Clostrum (کولستروم)

کنډ (فله) هغه شیدې چې دولادت څخه دستې وروسته په تیونو کې پیداکیږی او ډېر قوی پروتیني مواد او انتي باډېز لری .

Cloudication (کولوډی کیشن)

گوډ ،لنگ ، گوډ گوډ کیدل .

Clavicol (کلاوی کل)

دگـروې (ترقـوی) هډوکی ،دتوقک هډوکی .

Clawfoot (کلوفوت)

دپښـو دتلې اوپه کـیـدل (اتروفی) او شکلی تغیر.

Clearance (کلیرانس)

دبېوډی دفعالیت اندازه کول په تاکلي وخت کې لکه په ادرار کې دکـرياتنين ۲٤ ساعته اندازه

او په اصطلاح کې دینې ناروغی ده چې په هغې کې دینې نورمال حجرې تخریب او په ځای یې منظم انساج منځ ته راځی .

Cirsectomy (سرسکتومی)

دوریدونو توسع (هغه وریدونه چې غټ شـوي دي او دجـراحی عـمـل پواسطه ایستل کیږی)

Clamp (کلمپ)

دوینې دجریان بندول .

Clasmatocyte (کلاسماتوسایت)

مکروفاژ (په بدن کې دمکروبو او مضره موادو خوړل او له منځه وړل)

Claudication (کلوډی کیشن)

گردجن ، تیاره ، مکدر .

Classification (کلاسي فکیشن)

طبقه بندی ، صف بندی .

Clearge (کلیرج)

دیوې ملقـحـه هگې بدلیـدل او وېش په

په شخي بدليږي.

Clot (کلوټ)

دويني لخته کيدل ، پرنډ کيدل .

Clubbing (کلابينګ)

دلاس او پښو د ګوتو د منظم نسج را توليدل.

دلاس او پښو د ګوتو غوټجيدل او د ګوتو د سرونو سره يوه زاويه جوړوي چې د ځني رنځونو د پيژندني د پاره غوره نښه ده .

Clubfoot (کلب فوټ)

په ولادي شکل سره د پښې د تلې زيان .

Clubhand (کلب هنډ)

دلاس د شکل تغير او خرابي .

Cluneal (کلونيال)

د کوناټيو يوه برخه .

Clunis (کلونيس)

کوناټي (سورين) .

Clinic (کلينيک)

درنځورد کتني او معاينې ځای .

Clinician (کلينيشن)

د کلينيکي کتني کارپوه .

Clitoris (کليتوريس)

-د ښځي د مهبل هغه جوړښت چې د نارينه د قضيب انډول دی (يزر)

Clone (کلون)

د حجرو کشول ، يوې حجرې څخه د بلې حجرې ورته پيدا کيدل.

Clonic (کلونيګ)

دلاسونو او پښو د غړو شخي ، جټکې او کړيدل.

Clonus (کلونوس)

د مـــړوند او ښنګري د بند شـــخي ، حساسيت او نرموالی.

د ورون د ناڅاپي ضربې د ورون د څلورسرې عضلې د وامدار اهتزاز او رپا چې د زنګون

Cobal amin (کوبال امین)

هغه ماده ده چې د بی ۱۲ اوبتامین تول
ګروپونه لری .

Coccus (کوکوس)

کروی (ګرد) باکتری .

Coccyx (کوسیکس)

زنب الفرس (دلکه لمی
هډوکی) دعصعص هډوکی .

Colalgia (کولالجیا)

دلویو کلمو درد .

Cold (کولډ)

یخه هوا ، ولګی (ریزش) زکام .

Cold sore (کولډ سور)

پدې رنګ کې چې دویروس څخه منځ ته
راځی په زنه ، شونډو ، غاړه او پوستکی
کې سرسری تپونه او
(تخریشات) رامنځته کوی.

Colectomy (کولیک تومی)

Clysis (کلاي سس)

-په نسج کې دمایع زرق .
-القاح

Couagulnt (کواګولانت)

دوینې دتللو (علقه) دمخنیوی درمل .
دلخته، اوتحثر کولو درمل .

Coagulation (کواګولیشن)

دوینې دعلقه کولو عملیه چې به درې
مرحلو کې (دترومبو پلاستین دترومبین
او فبرین جوړیدل) پکې سرته رسیږی.

Coapt (کواپټ)

بوځای کیدل .

Coarectate (کواربکتیټ)

دفشار پواسطه یو ځای کول .

Coarctation (کوارک تیشن)

-تنګوالی لکه دابهر تزیق چې په ولادي
دول منځ ته راځی .
-وروکی کیدل.

Color blind neis (کالربلیند نیس)
دسترگو پدی ناروغي رنگونه ښه نه
شی تو پیر کیدلای (کوری الوان) .

Colibacill uria (کولی باسیل یوریا)
په بول (تشومتیازو) کې دای کولی
بکتریا موجودیت .

Colic (کولیک)
ناڅاپی شدید درد دبدن په هره برخه
خصوصاً په نس ، صفرا (تریخي) او
رحم کې (قلنج) .

Colicolitis (کولی کولیتس)
دغتو کلمو گزک د اي کولی له کبله .

Colicoplegia (کولی کوپ لیجیا)
ناڅاپی شدید درد او فلج .

Colicystitis (کولی سستی تس)
دمثانی گزک .

Colitis (کولی تس)
دغتو کلمو گزک .

دجراحی عمل پواسطه دغتو کلمو دیوې
برخې ایستل او اصلاح .

Coleocystitis (کولیو سستیتس)
دمهبل او سپوغزې گزک .

Coleotomy (کولیو تومی)
دجراحی عمل پواسطه دمهبل اصلاح او
دیوې برخې ویستل .

Colobacillemia (کولی باسیلیمیا)
په وینه کې د (ای کولی) بکتریا
موجودیت .

Colibacillosis (کولی باسی لوسیس)
هغه رنځ چې د (امی ،کولی) پواسطه
منځ ته راځي په خاصه توگه دحمل په
وخت کې دپښتورگو رنځ دپورته سبب
څخه .

Colobama (کولوباما)
په ولادی توگه دسترگې دځنې برخو
نشتوالی .

دمصنوعی مقعد جوړول د نس په
مخصوصو رنځونوکی دعلاج په
خاطر.

Colostrum (کولستریوم)
کنډ، فله

Colotomy (کولوتومی)
دجراحی عمل پواسطه دغټوکلمو
دخرابی برخی اصلاح او وویستل.

Colpalgia (کولپل جیا)
دمهبل درد

Colp(o) (کولپو)
مهبل

Complication (کمپلی کی شن)
دیوه رنځ په سبب دبل تکلیف او رنځ
پیداکیدل چی درنځور دعلاج مشکل
کوی.

Column (کولومن)

Collagen (کولاجن)
دبدن په منظم نسج کی دسکلیروتین
مادي شته والی او داهغه ماده ده چی
حرارت ورورسیږی نو ژلاتین جوړوی

Collaps (کولاپس)
لویدل ،چپه کیدل
دپوی نلکی . کڅوړی ددیوالو سره
نژدی کیدل او دحجم کموالی (تکمش)

Colpitis (کول پی تس)
دمهبل گزک

Colporrhagia (کولپوراجیا)
دمهبل څخه دوینی راتلل

Colpoto my (کولپو تومي)
دمهبل ویستل ، دنقیصي اصلاح
دزیانمن ځای جوړول

Colon (کولون)
غټی کلمی، غلیظه امعاء

Colostomy (کول ستومی)

Compulsirve (کمپول سیو)

په جبری توګه ، په جهدی توګه ، شاقه کار .

Concentration (کانسنتریشن)

غلظت ، ټینګوالی .

Conception (کان سپشن)

بلارېوالی ، مفکوره ، عقیده ، ادراک

Concern (کانسرن)

رابطه ، علاقه درلودل .

Concavelens (کونکا ولینس)

منفی سترګې ، مقعرالطرفین عدسې چې وړ انګو ته د تبعد انکسار ورکوی.

Concha (کونکا)

د صدف په څیر جوړښت چې د پزې په دننه برخه کې موجود دی (قرین) .

Condation (کاندیشن)

وضعه ، حالت ، درنځ پته او اندازه .

تنه ، پایه ، ستن ، داهغه برخه ده چې د ملاتیر (نخاع شوکی) په وړاندې برخه کې غزیدلې او نخاع شوکی اساسی برخه بلل کیږی.

Columna (کولومنا)

د نخاع شوکی اساسی او مهمه برخه .

Coma (کوما)

بی هوښی ، یغما .

داهغه غیر شعوری حالت دی چې رنځور د تنبه په مقابل کې ځواب نه وایي.

Complaint (کم پلینټ)

شکایت ، درنځ په حالت کې ډاکتر ته د خپل تکلیف اظهار او بیان .

Complement (کمپلی منټ)

بشپړ ، مکمل .

Compress (کمپریس)

فشار ، دګازیوه ټوټه چې د بدن د یوه غړی د پاسه د تداوی په خاطر فشار وارد وی .

خاطر.

Conization (کونی زیشن)

دقرین دنسج ایسته کول .

Cinjunctiva (کانجنک تیوا)

هغه مخاطي غشاده چې دجفن لاندینی برخه او دصلبي پردې پورتني برخه په سترگه کې پوښي.

Cons and Rods (کونز انډروډز)

دوه ډوله شبکي فوتور سیپتورونه دي .

-کونز دلیدلو دقوې او درنگونو د توپیر دنده لري.

-(راډ) دمحیطي دید او په کمه رڼا کې دلیدلو دنده په غاړه لري.

Conservative (کزنرواتیف)

محافظوي ، دبدن دغړو دوظیفې دساتنې او اعادې دپاره هڅې .

Conscious (کانسیوس)

ځیر، هوښیار ، باخبر، پوه، بیدار .

Condyle (کانډیل)

دهډوکی گرد شکله راوتلی او ښکاره جوړښت چې دهډوکی په نهایاتو کې وی لکه دوروں هډوکی نهایات .

Conduction (کانډکشن)

دزراتو دتماس په واسطه دالرجن انتقال.

Cinfused (کنفوزډ)

گیج کیدل، سربدالی .

Confusion (کانفیوژن)

پریشانی، گډوډی ، دماغي تشویش

Congestion (کانجس شن)

احتقان ،شین والی .

Conjugate (کانجوگیټ)

یوځاي شوي ، ددوه برخو دیوځاي کیدلو نقطه ، جوړه ، ورته شکلو نه .

Conjugation (کانجوگیشن)

یوځاي کول لکه دپروتوزوا ددوه حجرو یوځاي کیدل دنورو حجرو دتولید په

Consultant (کانسل تانت)

مشوره ورکونکي .

Consult (کان سلټ)

سلا ،مشوره .

Consultation (کانسل تي شن)

درنځ په باب د یویا څو ماهرانو مشوره ورکول .

Contamination (کانتامي نیشن)

منتن، چټل .

Contact (کانټکټ)

تماس ، نژدې والي .

Contagiou (کانتاجیو)

ساری .

Continence (کانتي نیس)

توان ، قدرت ، ځان ساتل لکه دمتیازود ساتنې توان او تحمل ، دجنسي عمل څخه ډډه کول.

Continuous (کان تنیوس)

Conscience (کان سنس)

ضمیر ، وجدان ، دښواوبدو ترمنځ دتوپیر کولو شعور.

Consolidation (کانسو لیډیشن)

دبدن ،د نسج د تغیر مرحله او آهک کیدل دکثافت زیاتوالي .

Constant (کانستانت)

ثابت او تغیر نه خوړونکي .

Constipation (کانستي پي شن)

قبضیت ، دغایطه مواد وغیر طبیعي کلکوالي او سختي چې حاجت ژر نه رفعه کیږي.

Constifution (کانستي فیوشن)

دبدن اساسي جوړښت ، او جسمي بیاوړتیا .

Construction (کانستر کشن)

یوځاي شوي ، منقبض شوي .

چې دیوه غړي حجم کمیږي.

هغه عملیه د دچې دسترګو دلیدلو محور نژدې نقطې ته متوجه کوي .

Convection (کانوکشن)

دحرارتي انرژې انتقال .

Conversion (کانورشن)

معکوس او چپه کیدل ، تاویدل لکه د ولادت په وخت کې دماشوم ځاني حرکات یا دبدن دفزیکي حالت سره سم داحساس او هیجان بدلون .

Convex lens (کانوکس لینس)

محدب الطرفین عدسي .

مثبتې ښیښې (عینکې) .

هغه سترګې (چشمې) چې دانکسار څخه وروسته وړانګې سره نژدې کوي .

Convoltion (کانولشن)

-اختلاج ، تشنج ، غیر نورمال حرکتونه

Convexity (کان وک سیتي)

تحدب .

متواتر ، پرلپسي .

Contraception (کانتراسپشن)

دحمل څخه مخنیوي .

Contraceptive (کانتراسپتیف)

هغه درمل او طبي مواد چې دحمل څخه مخه نیسي .

Contraction (کانترکشن)

تقلص ، غونډیدل.

Contraindication (کانتراندیکیشن)

داستطباب مضاد .

هغه درمل چې په ځنې رنځونو کې بې تجویز او ورکول جوازنه لري ځکه کیدلی شي دهمدې درمل په ورکړې سره بل رنځ زیات شي .

Contus (کنتوز)

توکیدل ، هغه سخته صدمه چې تپ نه لري . (توکل)

Convergence (کانورجنس)

قرنیه ، دسترګې دخارجي طبقې
شفافه پرده چې دقدامي بیت پورتني
دیوال جوړوي او دسترګې په کره کې
دساعت دښیښې په څیر پرته او دید
کې ستر رول لري .

Corneal contact lens
(کورنیل کانټکټ لینز)
نازکې مصنوعي پلاستیکي عدسې
دي چې په مستقیم ډول دجفن
(دزیړمو) لاندې دقرینه دپاسه نښلول
کیږي.

Corona (کورونا)
طبقه ، دتاج په شکل انا ټومیک
جوړښت .

Corpus luteum (کارپوس لیتیوم)
هغه اصفر جسم چې له القاح وروسته
په تخمدان کې منځ ته راځي .

Cor pus (کورپوس)

Contracture (کان ترکتور)
غیر طبعي وضعیت او شخي یا دیدن
دنورمالو حرکاتو محدودیت .

Copro lalia (کوپرولالیا)
غلطه افاده ، سپ ویل ، بدې خبرې کول
درفض ویل.

Cor (کور)
زړه ، قلب .

Corboncle (کاربن کل)
غټه دانه ، شنجه .

Cord (کورډ)
رسي ، حبل ، اوږداستوانوي جوړښت .

Coordination (کواردي نیشن)
هم آهنګي ، یووالي

Coracoid (کوراکویید)
دبدن هغه برخه چې دکارغه دمښوکې په
څیر (مخروطي ډول) جوړښت لري ،څوکه .

Cor nea (کورنیا)

توخی ، چی دادسرویو دفاعي عکس العمل
دي دکومې پیښې په وړاندې ۰

Couple (کوپل)

غبرگ، جوړه ، جفت ۰

Covertest (کاورټسټ)

فوریا (تروپیا) ددرجې او موجودیت
معلومولو طریقه

Coxa (کوکسا)

کناټي ، دکوناټي هډوکي.

Coxalgia (کوکسال جیا)

دسورین دهډوکي درد (دډوډي درد)

Cramp (کرامپ)

دعضلي تشنجي درد ، لکه دنس خوږ

Cramun (کرامون)

جمجمه ، کوپړی

Crani(o) (کرانو)

سر،کوپړی ، ککری

Cranial (کرانیل)

تنه ، بدنه ، جذع

Cortex (کورټکس)

قشر (بهرني برخه) لکه ددماغ بهرپوښ
او برخه ۰

Coryza (کوریزا)

ولگي ، زکام ، ریزش ۰

Cornealgraft (کورنیل گرفټ)

کیراتو پلاستي هم ورته وایي یا دقرني
پیوند ددید دښه کیدو دپاره ۰

Coroner (کورونر)

دعاجلو مړینو دسبب پلټونکي ۰

Cosmatic (کوسماتیک)

دښې ، څیرې او دیوه غړي سمول دعیب
دله منځه وړلو پاره ښه وجاهت ،
سینگارکول ۰

Cost(o) (کوسټ)

پوښتې اضلاع ، قبرغه ۰

Couglh (کف)

ورکوتوالي سره یو ځاي وي .

Crisis (کریسس)

بحـــران ، توپان ، درنځ ډیر شـــدید زیاتوالي او پرمختګ .

Crista (کریستا)

جګ ځاي ، څوکه ، وتلي برخه .

Cross (کراس)

د دورګـه کـیـدلو طریقـه ، دترقـوي (دګروي هډوکي) تړل .

Croup (کروپ)

